AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری

۲۰۲۶/۰۳/۲۹

# سپېڅلي مينه

بېګا په خوب کې

ته را سره وې

مسته، خندانه

د ګل غنچه وې

*****

له دام د غمه

دواړه آزاد وو

دا زما خوار زړه

ډير په تا ښاد و

*****

مست له وصاله

خنک  پرخنک ناست وو

ته زما په خواست وې

ژوند مې په خواست و

*****

هغه خنداوي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغه نازونه

هغه له میني

ډک ښه وختونه

*****

تا راته کړلي

کیسي د میني

ما دي ستایلي

سترګي حسینې

*****

مځکه خوشاله

اسمان خوشاله

سیندونه مست مست

ستوري بې حاله

*****

نه چیري غم و

نه جدایی وه

رانه چاپیره

ښاده ښادي وه

*****

اوس دا یم ناست یم

لیکم شعرونه

د ها خواږه وخت

کړم ارمانونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

*****

له اور د هجره

مي زړه سوځيږي

په خواره ورځ مي

يو خدای پوهيږي

*****

يه زما ستري

سپېڅلي ميني

يه چي بې تا مي

له زړه ځيويني

*****

څومره به ښاد وم

څومره به ښه وای

که دا ديدن مو

تش خوب کي نه وای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ